# د خان لالا په یاد کښې

## تعزيتي غونډه

رپورټ : هارون الرشید خټک



د ستر پښتون لارښود خان محمد افضل خان په یـاد کښې د تـعـزیتي غونډو سلسله روانه ده تر دا وختـه په ملک کښې دننه او بهر د مختلفو تنظیمونو او ادارو لـخـوا غـونډې او مشـاعرې وشوې. پـه دغـه سلسله کښې په شپاړسه جنورۍ ۲۰۱۲ د سوات ادبي کـاروان او افـغان انټیکچول (AiM) لـخوا یوه ستره غونډه او مشاعره په اشاړي سوات کښې د ابراهیم خان شبـنـم پـه حجره کښې وشوه. د دې غونډې صدارت د پښتـو اکیډمۍ پـخـوانـي ډائریکټر محمد نواز طاهر وکړو. د بـلـوچستـان ملک عنایت الله کاسي (سابقه سیشـن جـج) پـه دې مـوقـعـه مشر مېلمه ؤ. سابقه صـوبائي وزیر عبدالسبحان خان او ډاکټر عبادالله خان ایـم ایـن اے اعـزازي مېلمانه وو. د غونډې اغاز اکرام صېـب د تـلاوت کلام پاک نه وشو. او د نظامت چارې ئې حنیف قیس ترسره کړې.

پـه دې مـوقعه د (AiM) نـمـائنده ایمل خان خټک،بـریګیډئیـر (ر) سـلیـم خـان کـرنـل (ر) عبـدالـمـقـار خان، سابق صوبائي وزیر جنګلات واجد عـلي خان،قیصر ولي خان،سابق ایم پي اے عبدالجبار خـان و نـائـب ضـلـع نـاظـم سـوات، فـاروق خـان،عبـدالـوکیـل،سواتي، شوکت شرار،د خان لالا د خـاندان افراد، د اشاړي او خواو شا مشرانو، سپین روږو او ورسره ورسره د بونیر،ملاکنډ،پېښور، مردان،سوات شاعرانو خان لالا ته د خپل عقیدت پیرزوینې وړاندې کړې.

په مشاعره کښې س سیرت، شمس بونیري، هـارون الـرشیـد خټک، جـمیـل کـاچـوخیل، ابراهیم دیـولـئ، ځـار یوسفزي، حکیم الله بریالي، فضل نعیم نـعیـم، زیـراب ګـل،ظـفـرعـلـي ناز، عمرزاده افغان، پروفېسر نواز یوسفزي، پروفېسر عطاء الرحمان عطا، اقبال شاکر،سمسور بونیري برخه واخسته.

او پـه مـقـرریـنـو کښې ابراهیم شبنم، اقبال حسیـن افـکـار،قـاري مـحمود،عبدالسبحـان خـان، پـروفیسر فرمان الدین بخشالي، واجدعلي خان، ډاکټر عبـاد الـلـه خان، ملک عنایت الله کاسي، شامل وو. د افـضل خان لالا په ژوند او شخصیت ئې په زړۀ پورې خبـرې وکړې. او د هـغـوي پـه سیـاسي، قامي،ادبي، سـمـاجـي خدمتونو،کردار او جدوجهد ئې رڼا واچوله. خـصـوصاً د طالبانو په وخت کښې د هغوي د جرات او استقامت ستاینه وشوه. په دې موقعه پروفیسر محمد نواز طاهر ته د هغه په ادبي خدماتو ایوارډ ورکـړے شو. او د ښـاغلي عثمان اولس یار په تجویز ابراهیم شبنم د افـضـل خان لالا ایوارډ ,,د اجـراء اعلان وکړو چې هر کال به د پښتو په شعري کتابونو ورکولے شي.